# په طالبِ علمِ دِین باندې کرم اوشو

## 05-May-2022



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډك بيان

(For Islamic Brothers)

5 مئ 2022ء د پاکستان په هفته وار اجتماع کښې کيدونکے بيان

# په طالِبِ علمِ دِين باندې کرم اوشو

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

د الله پاك آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: چا چې په کتاب کښې په ما باندې دُرُودِ پاك اوليکلو نو ترڅو پورې چې زما نوم په هغې کښې ليك وي، فرښتې به د ليکونکي د پاره د بخښنې دُعا کوي.[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ (يعنې) رښتينے



[1]…معجم اَوْسط، جلد:1، صفحه:497، حديث:1835۔

نِيَّت د ټولو نه افضل عمل دے.(1)

اے عاشقانِ رَسُول! د هر نيك او جائز كار نه مخكښې ښه ښه نِيَّتونو كولو عادت جوړ كړئ چې هغه نِيَّت بنده جنَّت ته داخلوي. د بيان اوريدلو نه مخكښې ښه ښه نِيَّتونه اوكړئ: مَثَلاً نِيَّت اوكړئ چې ✿ نظر به ښكته ساتم او ښه په غور به بيان اورم. ✿ د علمِ دِين زده كولو د پاره به پوره بيان اورم ✿ چې څومره كيدے شو د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت به بااَدبه كښينم ✿ د خپلے اصلاح د پاره به پوره بيان اورم ✿ څه چې واورم پخپله به پرې د عمل كولو او نورو د رَسَولو كوشش كووم ✿ كه قلم كاغذ درسره وي نو د اهمو نكاتو نوټ كولو نِيَّت هم اوكړئ.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دِين په طالبِ علم باندې كرم اوشو...(يوه د اِيمان نه ډكه واقعه)

حضرت يحيٰي بِن يحيٰي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مالكي مذهب پيشوا، حضرت اِمام مالِك بِن اَنَس رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه شاګرد دے، فرمائي: كله چې زه په وړومبئ ورځ د حضرت اِمام مالِك بِن اَنَس رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت كښې د علم حاصلولو د پاره حاضر شوم، هغوئي زما د نوم تپوس اوكړو. بيا ئې اوفرمائيل: اَللّٰـه! اَللّٰـه! په علمِ دين حاصلولو كښې ښه كوشش اوكړه...! ستا د ترغيب د



1...جامع صغير، صفحه:81، حديث:1284۔

پاره زه تا ته یوه واقعه بیانووم: یو ځل د ملكِ شام نه ستا په عمر یو ځلمے مدينے مُنَوَّرې ته د علمِ دِين زده کولو د پاره راغلو، هغه به زمونږ سره علم حاصلولو، د طالبِ علمۍ په دوران کښې وفات شو، ما د هغه ځلمي د جنازے په شان بله جنازه نه ده لیدلي، د مدینے مُنَوَّرې یو عالم، یو طالبِ علم داسې نه وو چې د هغه په جنازه کښې شریك شوے نه وو [یعني ټول په جنازه کښې حاضر وو]. د هغه وخت اوچت عالِمِ دین حضرت ربیعه رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د هغه د جنازے لمُونځ اِمامتي اوکړه. بیا حضرت ربیعه، حضرت زید بِن اسلم، حضرت یحیٰی بِن سعید او حضرت اِبنِ شهاب رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم (یعني د دغه وخت لویو لویو علمائے کرامو) هغه قبر ته کوز کړو.

د دې خوش نصیبه طالبِ علم د وفات نه درے ورځے پس یو کس هغه په خوب کښې اولیدلو، څه ګوري چې یو ښکلے ښائسته ځلمے دے، سپین لباس ئې اغوستے دے، شنه عِمامه ئې په سر ده او په یو ښکلي اس باندې ناست د اسمان نه را کوزیږي، خوب لیدونکي د هغه دا مقام و مرتبه چې اولیدله نو په حیرانتیا سره ئې تپوس اوکړو: اے ځلمیه! ته دے مقام ته څنګه اورسیدے؟ ځلمي اووئیل: زه خپل علمِ دین دې ځائ ته را اُورَسَوَلم، د علم هر باب کوم چې ما زده کړے وو، اللّٰه پاك د هر باب په بدله کښې ما ته په جنَّت کښې یوه درجه را عطا کړه. بیا د علمِ دین په

برکت ما ته درجات نصيب کيدل، اګرچې زه طالبِ علم ووم خو د اللّٰه پاك په فضل و کرم سره زه د عُلمائے کرامو درجے ته اُورَسيدلَم، اللّٰه پاك فرښتو ته حڪم اوکړو: زما د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام د وارثانو درجات اوچت کړئ! بيشکه ما په خپله ذِمه باندې لازم کړي دي چې کوم عالِمِ دين وي يا طالبِ علم وي، هغوئي ټول دې په يوه درجه کښې اوساتلے شي، هغه خوش نصيبه طالِبِ علم اووئيل: زه هم طالِبِ علم ووم نو اللّٰه پاك ما ته اوچتې درجے را عطا کړې، تر دې چې زما او زمونږ د رسولِ اکرم صَلَّی اللّٰه عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مينځ کښې صرف د دوو درجو فاصله پاتې شوه، يوه درجه هغه چرته چې خوږ آقا صَلَّی اللّٰه عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نورو انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام سره تشريف فرما دے او دويمه درجه هغه چرته چې صحابۀ کرام عَلَيهِمُ الرِّضوان او په تيرشوو انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام باندې اِيمان راوړونڪي موجود دي، د دې دوو درجو نه پس د علمائے کرامو او طالبِ علمانو درجه ده، دې طالبِ علم د اللّٰه پاك د مهربانو نور ذِکر کولو سره اووئيل: کله چې زه د علمائے کرامو درجے ته اورسيدم نو هلته موجود علمائے کرامو زما ښه ښکلے استقبال اوکړو، بيا اللّٰه پاك مونږ ته د زيري اورولو سره اوفرمائيل: اے د علماؤ ډلې...! دا زما جنت دے، دا ما تاسو ته عطا کړے دے، دا زما رِضا ده، بيشکه زه ستاسو نه راضي شوم، زه به تاسو ته

عطا کړم د کوم څيز چې تاسو خواهش اوکړئ او د چا چا چې تاسو شفاعت اوکړئ، زه به ستاسو شفاعت قبول کړم.

عَلَّامه اِبنِ بَطَّال رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې ايمان افروزې واقعې ليکلو نه پس فرمائي: دا ټول فضائل د هغوئي د پاره دي کوم چې صرف او صرف د الله پاك د رِضا د پاره علمِ دين زده کوي او په خپل عِلم باندې عمل هم کوي.[1]

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## اے ربه! د عِلم د شمعې سره دې زما محبت وي

اے عاشِقانِ رسول! تاسو اوليدل! خوش نصيبه طالِبِ علم ته د علمِ دين د پاره کور پرينبودلو، ښه په اِخلاص او محنت سره علمِ دين حاصلولو کښې مشغوله اوسيدو څومره برکتونه نصيب شو، الله پاك دې مونږ ته په نيکو خلقو باندې رشك کول نصيب کړې! لږ تَصَوُّر خو اوکړئ! دا ځلمے څومره خوش قسمته وو، ده د علمِ دين د پاره خپل کور پرينبودو، د مور و پلار او خپلو خپلوانو نه ئې جُدائي اختيار کړه، د مُلكِ شام نه مدينے مُنَوَّرې ته حاضر شو، د علمِ دين زده کولو په دوران کښې وفات شو نو اِنعام ورته دا ميلاو شو چې د وخت لوئ لوئ علمائے کرام د هغه په جنازه



[1]...شرح صحيح بخاری لابن بطال، کتاب العلم، جلد:1، صفحه:134و135۔

www.dawateislami.net

کښې شريك شو، د وخت لويو علمائے کرامو هغه لحد ته کوز کړو، د ټولو نه لوئ کرم پرې دا اوشو چې الله پاك ورته په جنَّت کښې اوچتې درجے عطا کړې، او د علمائے کرامو په درجه کښې ورته مقام ورکړو.

سُبْحٰنَ اللّٰه! الله پاك دې مونږ ته هم علمِ دين زده کول نصيب کړې.

زِندگی ہو مری پروانے کی صُورت یارَبّ! | عِلْم کی شمع سے ہو مجھ کو محبت یارَبّ!

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم

## د عُلمائے کرامو درجات اوچتيږي

په سيپاره 28، سُوْرَةُ الْمُجَادَلَة، آيت: 11 کښې الله پاك ارشاد فرمائي:

يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ ۙ وَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ ؕ

[مفهوم] ترجمهٔ کَنْزُالایمان: الله ستاسو د اِيمان والؤ او د هغوئي کومو ته چې عِلم ورکړے شوے دے، درجے به اوچتې کړي.

صحابئ رسول، سُلطانُ المُفَسِّرين، حضرت عبد الله بن عباس رضی اللہ عنہ د دې آيت په تفسير کښې فرمائي: علمائے کرام به د عامو مومنانو نه 700 درجے اوچت وي او د هغې هر دوو درجو په مينځ کښې به د 500 کالو لرې والے وي.[1]



[1] ...قوت القلوب، جلد: 1، صفحه: 241۔

www.dawateislami.net

## ”علم“ د دِين قطب دے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! غور اوکړئ! د علمِ دين څومره اوچت شان دے چې علمائے کرامو ته به په ورځ د قيامت د عامو خلقو نه ډيرې اوچتې درجے ميلاؤ شي. حُجَّةُ الْاِسْلام اِمام محمد بِن محمد غزالي رَحْمَةُ الله عَلَيْه فرمائي: علم د کاميابئ بنياد او د دِين قطب دے.

## علم ژوند او جهالت مرګ دے

د اعلٰی حضرت والدِ محترم حضرت مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ الله عَلَيْه فرمائي: په دُنيا او آخرت کښې څه کمال د علمِ دين نه بغير نه شي حاصليدے تر دې پورې چې د علمِ دين نه بغير اِيمان هم ناقص پاتې کيږي. په دې وجه علمائے کرام فرمائي: اَلْعِلْمُ بَابُ اللّٰهِ الْاَقْرَب علم د الله پاك بارګاه ته د ټولو نه نزدې د رسيدلو دروازه ده، وَالْجَهْلُ اَعْظَمُ حِجَاب بَيْنَكَ وَ بَيْنَ اللّٰه او جهالت ستا او د الله پاك په مينځ کښې د ټولو نه غټ حجاب دے (يعني پرده ده).

حضرت مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ الله عَلَيْه نور فرمائي: علم ژوند او جهالت مرګ دے.[1]



[1] ...فيضانِ علم و علما، صفحه:7و8۔

www.dawateislami.net

الله پاك دې مونږ ټولو ته د علمِ دين شوق را نصيب كړې. راځئ! د علمِ دين په فضائلو باندې يو څو احادِيث كريمه اوريدلو سعادت حاصلوو.

## (1) يوه زمانه به داسې راشي...!!

د حضرت حكيم بِن حزام رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې رسولِ كريم صلَّی اللہ علیہ واٰلہ وسلَّم فرمائي: بيشكه تاسو په داسې زمانه كښې ئې چې علماء زيات دي او خطيبان (د ځان نه جوړې شوي قصے بيانوونكي) لږ دي. [خيرات] وركوونكي زيات او اخستونكي كم دي، په دې زمانه كښې عمل كول د علم نه بهتر دي. نزدې ده په خلقو به داسې زمانه راشي چې علماء به كم وي او خطيبان (يعني د ځان نه جوړې شوي قصے بيانوونكي) به زيات وي، وركوونكي به كم او اخستونكي به زيات وي، په دغه زمانه كښې علم زده كول به د عمل كولو نه افضل وي.[1]

## (2) علمِ دين زده كول په هر مسلمان باندې فرض دي.

د صحابيءِ رسول حضرت اَنَس بِن مالك رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې د الله پاك آخري نبي، رسولِ هاشمي صلَّی اللہ علیہ واٰلہ وسلَّم فرمائي: طَلَبُ الْعِلْمِ



[1]...معجم كبير، جلد:2، صفحه:306، حديث:3041۔

www.dawateislami.net

فَرِيْضَةٌ عَلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ وَاِنَّ طَالِبَ الْعِلْمِ يَسْتَغْفِرُ لَهٗ كُلُّ شَيْءٍ حَتَّى الْحِيْتَانُ فِي الْبَحْرِ علمِ دين زده كول په هر مسلمان باندې فرض دے او (د دِين) د طالبِ علم د پاره هر څيز تر دې پورې چې په سمندر کښې مهيان هم د بخښنې دُعا کوي.[1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د علمِ دين زده کولو څومره عظيم برکتونه دي چې د دين طالبِ علم په خپل کارونو کښې مشغول وي، علم زده کوي، ديني کتابونه لولي، قرآني آيتونه او احاديث يادوي او د دُنيا هر څيز تردې پورې چې د سمندر مهيان هم د هغه د پاره د بخښنې دُعا کوي. دا څومره خوش قسمتي ده....!! سُبْحٰنَ اللّٰه!

## کوم عِلم زده کول فرض دي...؟

اے عاشِقانِ رسول! اوس مونږه چې کوم حديثِ پاك واوريدلو، په هغې اوفرمائيل شو چې علم حاصلول په هر مسلمان باندې فرض دے. په دې حديثِ پاك کښې کوم عِلم مراد دے؟ د دې په وضاحت کښې شيخِ طريقت، اَميرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي: د دې حديثِ پاك نه د سکول او کالج مُرَوَّجه دُنياوي تعليم مراد نه دے بلکه ضروري ديني علم مراد دے لِهٰذا ❀ د ټولو نه اوَّل اسلامي عقائد زده کول فرض دی ❀



[1]...جامع صغير، صفحه:325، حديث:5266۔

www.dawateislami.net

د دې نه پس د لمَانځه فرائض، شرائط او مُفسدات (يعني لمُونځ خنګه ټيك کيږي او څنګه ماتيږي، د دې زده کول) [فرض دي] ❀ بيا چې کله رَمَضَانُ المُبارَك راشي نو په چا چې روژې فرض دي د هغه د پاره د روژو ضروري مسائل [زده کول] ❀ په چا چې زکوٰة فرض دے، د هغه د پاره د زکوٰة ضروري مسائل [زده کول فرض دي] ❀ دغه شان د حج فرض کيدو په صورت کښې د حج مسائل❀ نکاح کول غواړي نو د نکاح [مسائل زده کول]❀ د تاجر د پاره د تجارت ❀ د خريدار [يعني اخستونکي] د پاره د اخستلو ❀ نوکري کوونکي او نوکر ساتلو والا د پاره د اجارے [مسائل او احکامات زده کول فرض دي] ❀ غرض په هر مسلمان عاقِل و بالغ نارينه او زنانه باندې د هغه د موجوده حالت مطابق مسئلے زده کول فرضِ عين دي.

❀ دغه شان د هر يو د پاره د حلال و حرام مسائل زده کول فرض دي ❀ مسائلِ قلب (يعني باطني مسائل) يعني باطني فرائض مَثَلاً عاجزي، اِخلاص او تَوَکُّل وغيره او د دې د حاصلولو طريقه ❀ دغه شان باطني ګناهونه مَثَلاً تَکَبُّر، رِياکاري، حَسَد، بدګماني، بُغض وکينه [يعني په زړه کښې پټه دُښمني ساتل] وغيره او د دې علاج زده کول هم په هر مسلمان باندې فرض دي ❀ دغه شان **مُهلِکَات** يعني په هلاکت کښې اچوونکي

ځيزونه لکه وعده خلافي، دروغ، غيبَت، چغلي، بهتان، بدنظري، دوکه، مسلمان ته تکليف ورکول وغيره وغيره صغيره او کبيره ګناهونو په باره کښې ضروري احکامات زده کول هم فرض دي چې د هغې نه بچ شي. -[1]

خدایا ہم اسلامی اَحکام سیکھیں | بچائیں جو دوزخ سے وہ کام سیکھیں

**ترجمه:** خدايه کرم اوکړې چې مونږه اسلامي احکام زده کړو او په هغې عمل اوکړو چې د دوزخ نه بچ شُو-

## د دُنياوي علومو زده کولو شرائط

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** نن سبا د دُنياوي علومو زده کولو شوق او مينه ډيره زياته شوي ده، ډير مسلمانان خپل دُنياوي مستقبل نبائسته کولو په خاطر دُنياوي علوم زده کوي او د هغې د پاره ډير زيات محنت او مشقت کوي. بيشکه د دُنياوي علومو زده کولو دُنياوي فائدے هم دي او دُنياوي علوم زده کولو ته مطلقًا ناجائزه هم نه شي وئيل کيدے، البته د دُنياوي علومو زده کولو د پاره څه شرائط دي، هغه پوره کول ضروري دي. اعلٰـى حضرت، شاه اِمام احمد رضا خان رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: ❀ هغه علوم په کومو کښې چې کفريات وي د هغې لوستل حرام دي ❀ آؤ! جائز علوم (په کومو کښې چې د اسلامي عقائدو خلاف خبرے نه وي، هغه علوم



1...نیکی کی دعوت، صفحه:136۔

www.dawateislami.net

زده کول) د نوکرۍ د پاره جائز دي ❁ په دې کښې به داسې نه مشغوله کيږي چې د دين ضروري علم هم زده نکړي، ګڼې **هغه دُنياوي علوم کوم چې د فرض علوم حاصلولو نه انسان منع کړي، حرام دي** ❁ د دې سره دا هم ضروري دي چې په خپل دِين او اخلاقو ئې اثر هم پرې نوځي❁ په اسلامي عقائدو او خيالاتو باندې مضبوط ولاړ وي او مسلماني وضع باندې قائم اوسي، دا ټول شرائط اوموندلے شي نو د جائز رزق حاصلولو د پاره جائز دُنياوي علم زده کولو کښې حرج نشته.[1]

يو بل ځائ فرمائي: هر انسان چې په کوم حالت دے، د هغې مُتَعَلِّق د شرعي احکاماتو نه خبر وي، دا فرضِ عين دے، ترڅو پورې دا علم حاصل کړے نه وي جغرافيه، تاريخ [سائنس، رياضي] وغيره (دُنياوي علوم) زده کولو کښې وخت ضائع کول جائز نه دي.[2]

لِهٰذا څوك چې دُنياوي علوم زده کوي، په هغوئې باندې لازم دي چې اوَّل ضروري ديني علوم زده کړي، صرف هغه علوم دې اولولي کوم چې د قرآن و حديث او د اسلامي تعليماتو مخالِف نه وي، په کومو علومو کښې چې د دِين مُخالِف خبرے وي، هغه علوم هيڅ کله مه لولئ او د دې سره



[1]...فتاوٰی رضويه، جلد:23، صفحه:709و708۔

[2]...فتاوٰی رضويه، جلد:23، صفحه:647۔

www.dawateislami.net

سره دُنياوي علوم حاصلولو كښې هم اسلامي اخلاق او اسلامي حُليه (مثلاً كيره وغيره) برقرار اوساتئ. د دې شرائطو سره جائز دُنياوي علم زده كول جائز دي.

## (3) الله پاك چې چا لره د نيكئ اراده اوكړي.....

د الله پاك آخري نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: مَنْ يُرِدِ اللّٰهُ بِهٖ خَيْراً يُّفَقِّهْهُ فِي الدِّيْن الله پاك چې چا لره د نيكئ اراده اوكړي نو هغه ته د دين پوهه عطا كوي.[1]

## (4) عُلماء د انبياء وارثان دي

حضرت كثِير بِن قَيس رَحمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: زه د دِمشق په جامع مسجد كښې د صحابـئ رسول حضرت ابودرداء رَضِىَ اللهُ عَنْهُ په خدمت كښې حاضر ووم، دغه وخت د هغوئي په خدمت كښې يو كس حاضر شو، عرض ئې اوكړو: اے ابو درداء رَضِىَ اللهُ عَنْهُ! ما ته معلوم شوي دي چې تاسو د رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو حديث بيانوئ، زه د هغه حديثِ پاك زده كولو د پاره د مدينے مُنَوَّرې نه راغلے يم. حضرت ابو درداء رَضِىَ اللهُ عَنْهُ اوفرمائيل: آيا ته د تجارت د پاره خو نه ئې راغلے؟ عرض ئې اوكړو: نه!



[1]...بخاری، كتاب العلم، باب من يرد الله، صفحه:92، حديث:71۔

اوئې فرمائيل: د تجارت نه علاوه (په دمشق كښې) ستا نور څه كار وي د كوم د پاره چې ته راغلے ئې؟ عرض ئې اوكړو: نه (زه خو صرف د رسُولُ الله صلّى الله عليه وآله وسلّم حديث زده كولو د پاره د دومره لرې نه حاضر شوے يم، د دې نه علاوه زما څه بل مقصد نشته). په دې باندې حضرت ابُو درداء رضي الله عنه د طالبِ علمِ دين فضائل بيانولو سره اوفرمائيل: ما د الله پاك آخري نبـي صلّى الله عليه وآله وسلّم نه دا فرامين اوريدلي دي: ❁ څوك چې د علمِ (دين) زده كولو د پاره په لار روان شي، الله د هغه د پاره د جنَّت لاره آسانوي ❁ بيشكه فرښتې د طالبِ علمِ (دين) نه خوشحاليږي او د هغه د پاره خپلې وزرې خوروي ❁ بيشكه د زمكې او اسمانونو ټول مخلوق، تردې پورې چې د اوبو مهيان هم د طالبِ علمِ (دين) د پاره د بخښنې دُعا كوي ❁ بيشكه د عالِم فضيلت په عبادت كوونكي باندې داسې دے لكه د څوارلسمې سپوږمۍ فضيلت په ستورو باندې دے ❁ بيشكه عُلماء د انبياء وارثان دي، بيشكه انبيائے كرام عليهم السّلام په ميراث كښې درهم و دينار (يعني مال و دولت) نه پريږدي، انبيائے كرام عليهم السّلام خو په ميراث كښې صرف علم پريږدي، **پس چا چې علمِ (دِين) حاصل كړو، هغه غټه حِصَّه حاصله كړه.**[1]



[1] ...ابن ماجه، مقدمه، باب فضل العلم، صفحه: 49، حديث: 223۔

www.dawateislami.net

## د علمِ دين نه زيات نور عظمت نشته

سُبْحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! غور اوکړئ! د طالِبِ علمِ دين څومره اوچت شان دے، د طالِبِ علمِ دين د پاره د جنَّت لاره اسانيږي، د طالِبِ علمِ دين د پاره فرښتې خپلې وزرې خوروي، د طالِبِ علمِ دين د پاره د زمکې او اسمان ټول مخلوق، فرښتې، ونې، ځناور او مرغۍ، تردې پورې چې د اوبو مهيان هم د بخښنې دُعا کوي او د ټولو نه اهم فضيلت ئې دا دے چې علمائے دين د انبيائے کرام عليهم السّلام وارثان دي.

حُجَّةُ الْاِسْلام اِمام محمد بن محمد غزالي رحمة الله عليه فرمائي: څنګه چې د نَبُوَّت نه اوچته مرتبه نشته، دغه شان د نَبُوَّت د ميراث (يعني علمِ دين) نه زيات بل عظمت نشته.[1]

## (5) د عُلماؤ فضيلت داسې دے لکه....!!

د ترمذي شريف په حديثِ پاك کښې دي، حضرت ابُواُمامه باهَلـي رضي الله عنه فرمائي: د خوږ نبـي صلّى الله عليه واله وسلّم په خدمتِ اقدس کښې د يو عبادت ګزار او د يو عالِم ذِکر اوشو، په دې باندې خوږ آقا صلّى الله عليه واله وسلّم اوفرمائيل: فَضْلُ العَالِمِ عَلَى العَابِدِ كَفَضْلِىْ عَلَى اَدْنَاكُمْ يعني د عالِم



[1]...احياءُالعلوم مترجم، جلد:1، صفحه:45۔

فضيلت په عابِد باندې داسې دے لکه زما فضيلت ستاسو په ادنٰی (يعني د ټولو نه کمې مرتبے والا) باندې دے.[1]

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** دا د عُلمائے کرامو بےمثاله فضيلت دے، لږ غور اوکړئ! زمونږ د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فضيلت څومره اوچت دے، خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د انبيائے کرامو تاجدار او اِمامُ الانبياء دے، د الله پاك نه پس د ټولو نه اوچته مرتبه زمونږ د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ده، د دومره اوچتې مرتبے رسول، رسُولِ مقبول صَلَّی اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: **د عالِم (دين) فضيلت په عبادت ګزار باندې داسې دے لکه زما فضيلت ستاسو په ادنٰی اُمَّتـي باندې دے.**

اوس مونږ له غور کول دي چې د ټولو نه کمے مرتبے والا اُمَّتـي څوك دے؟ او زمونږ د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په هغه باندې فضيلت څومره دے؟ يقيناً د دې اندازه نه شي لګيدے، البته عُلمائے کرامو د دې سرسري يوه اندازه لګوي ده، علماء فرمائي: ❁ د ټولو نه کمې درجے والا اُمَّتـي هغه دے د چا په زړه کښې چې د اِيمان نُور موجود دے خو د هغه ژوند په ګناهونو کښې تيرېږي، دا د ټولو نه کمه درجه ده ❁ بيا د دې نه اوچته د نيك مسلمان درجه ده ❁ بيا د دې نه بره د شهيد درجه ده❁ بيا



[1]...ترمذی، ابواب العلم، باب ما جاء فی فضل الفقه، صفحه:632، حديث:2685۔

www.dawateislami.net

د دې نه اوچته د مُتَّقـي پرهيزګار درجه ده ❁ د مُتَّقـي پرهيزګار نه اوچته د وَلي درجه ده ❁ د عامو اولياء نه اوچته درجه د اَوتاد ده ❁ د اَوتاد نه اوچته د ابدال درجه ده ❁ د د ابدال نه اوچته د قُطُبْ درجه ده❁ د قُطُبْ نه بره د قُطُبُ الْاَقْطاب درجه ده ❁ د قُطُبُ الْاَقْطاب نه اوچته د غوث درجه ده ❁ د غوث نه اوچته د غَوْثُ الْاَعْظَمْ درجه ده ❁ بيا دغه شان د ولايت درجے دي ❁ د ولايت په دې ټولو درجو كښې اوچته درجه د صحابـي ده ❁ په صحابۀ كرامو عَلَيهِمُ الرِّضْوان كښې اوچته درجه د اَنصاري صحابۀ كرامو ده ❁ د اَنصارو نه بره د مُهاجرينو درجه ده ❁ په مهاجرينو كښې د ټولو نه اوچته درجه د صِدِّيق ده ❁ د صِدِّيق نه بره د نبـي درجه ده ❁ د نبـي نه بره د رسول ❁ د رسول نه بره اَنْبِيَاـئ اُوْلُو الْعَزم ❁ په اَنْبِيَاـئ اُوْلُو الْعَزم كښې اوچته درجه د حضرت اِبراهيم خليلُ اللّٰه عَلَيهِ السَّلام درجه ده ❁ د حضرت اِبراهيم خليلُ اللّٰه عَلَيهِ السَّلام اوچته د خاتَمُ النَّبِيّيْن، رَحْمَةٌلِّلْعَالَمِيْن، حبيبِ رَبُّ الْعَالَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درجه ده. (1)

اَللّٰهُ اَكْبَرْ! اے عاشِقانِ رسول! غور اوكړئ! دا صرف يو اجمالي بيان دے، په حقيقت كښې د اللّٰه پاك د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مقام و



1...شانِ حبيب الرحمٰن، صفحه:125ملتقطاً۔

www.dawateislami.net

مرتبه څه ده، دا خو هډو څوك معلومولے نه شي، صرف اجمالي طور دا درجے اوليدے شي نو زمونږ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په يو ادنٰى اُمَّتي باندې څومره درجے فضيلت لري، اوس حديثِ پاك واورئ! ارشاد فرمائي:

**يو عالِمِ دين په عبادت ګزار مسلمان باندې داسې فضيلت لري څنګه چې زما فضيلت په ادنٰى اُمَّتي باندې دے.**

دا د عُلمائے كرامو شان دے....!! الله پاك دې مونږ ټولو ته باعمله عالِمِ دِين جوړولو توفيق را نصيب كړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## (6) د 72 صِدِّيقينو ثواب

د حضرت ابُو اُمامه باهَلي رَضِىَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې رسُولُ الله فرمائي: علم حاصل كړئ! ځكه چې ❀ د الله پاك د رضا د پاره علم زده كول د الله نه ويره ده ❀ د علم لټون عبادت دے ❀ د علم تكرار كول (يعني سبق يادولو د پاره بار بار لوستل) تسبيح ده ❀ بے علم ته علم زده كول صدقه ده ❀ علم د هغې په اهل باندې خرچ كول نيكي ده ❀ علم د حلال و حرام پيژندلو ذريعه ده ❀ علم د جنّتيانو د لارې نښه ده ❀ علم د راحت سبب دے ❀ علم د لارې ملګرے دے ❀ علم د تنهائي [يعني يواځې كيدو] ملګرے دے ❀ علم په تنګدستئ او خوشحالئ كښې رهنما دے ❀ علم د دُښمنانو په مُقابَله كښې وسله ده ❀ علم د دوستانو

په نِزد ښکلا ده ❁ الله پاك د علم په ذريعه قومونه اوچتوي ❁ الله پاك د علم په ذريعه د قومونو اِمام جوړوي، بيا د هغوئي پيروي کيږي ❁ د علماء رائے آخري حرف ګڼړلے کيږي ❁ فرښتې د عُلماؤ په دوستئ کښې رغبت کوي ❁ د علماؤ د پاره هر اوچ او لوند، تردې پورې چې د سمندر مهيان او د اوچې ځناور، ټول د بخښنې دُعاګانے غواړي ❁ علم د زړه ژوند دے ❁ علم په تياره کښې د سترګو نُور دے ❁ د علم په ذريعه بنده د اوليائے کرامو منزلونه مومي ❁ علم د عمل اِمام دے ❁ عمل د علم تابِع دے ❁ د خوش نصيبه خلقو په زړه کښې علم ايښودے کيږي ❁ او بدبخته د علم نه محرومه کيږي.[1]

## (7) د علماؤ د پاره د رزق غيبـي انتِظام

زمونږ خوږ آقا مکـي مدني مصطفٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: کوم بنده چې د دِين پوهه حاصلوي، الله پاك د هغه د غمونو او پريشانو له کافي کيږي او هغه ته د داسې ځائ نه رزق عطا کوي چرته چې د هغه ګمان هم نه وي.[2]

323

[1]...الترغيب والترہيب، کتاب العلم، صفحه:42و43، حديث:8 ملتقطاً۔

[2]...جامع بيان العلم وفضله، جلد:1، صفحه:199، حديث:216۔

سُبْحٰنَ اللّٰه! اے عاشِقانِ رسول! مونږ له پکار دي چې هِمَّت اوکړو، نفس سُستي راولي، شيطان وسوسه ور اچوي، دا دواړه زمونږه دُښمنان دي، د دوئي يوه [خبره] هم مه اورئ، د خپل خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مبارك فرمان باندې نظر اوكړئ، علمِ دين زده كولو كښې مصروفه شئ، پريشانئ به راځي، مُشكلات به راځي، قرباني وركول هم در پيښيدے شي، خو څه خبره نه ده، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! الله پاك به د غمونو او پريشانو نه درته خلاصے دركړي او د رزق انتِظام به د داسې ځائ نه اوكړئ، چرته چې د هغه ګمان هم نه وي.

## د وخت حاکم د علمِ دين طالبانو نه مُعافـي اوغوښتله

حضرت ابو الحسن فقيه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: مونږه د مشهور مُحَدِّث حَسَن بِن سُفيان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت كښې اوسيدلو، يو ځل هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: كله چې زما د علمِ دين زده كولو سره شوق پيدا شو، په هغه وخت كښې زه ځوان ووم، مونږه يو څو ملګري د علم حاصلولو د پاره مصر ته روان شو، اوس مونږه د اُستاذ صاحب لټون كولو، د ډير لټون نه پس مونږه د هغه زمانے ډير لوئ مُحَدِّث په خدمت كښې حاضر شو، هغوئي به مونږ ته هره ورځ احاديث ليكل.

مونږ ټول ملګري په يو جمات کښې اوسيدلو، پردئ علاقه وه، غريبي وه، تنګدستي وه، څوك زمونږ د تکليفونو او مشقتونو نه خبر نه وو، مونږه هم چا ته خپل مشقتونه نه وو بيان کړي. يو ځل داسې اوشو چې زمونږ سره څومره روپــئ وې، ټولې ختمې شوے، لوږه شروع شوه، دردې پورې چې مونږه درې ورځې او درې شپې لوږه تيره کړه، د لوږې په وجه کمزوري زياته شوه، ګرځيدل هم ګران شو.

حضرت حَسَن بِن سُفيان رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: د دې لوږې په حالت کښې څلورمه ورځ هم راغله، بيا خو کمزوري آخري حد ته رسيدلې وه، زه د جمات يو ګوَټ ته لاړم او لمُونځ مې شروع کړو، د لمَانځه نه پس مې دُعا اوغوښتله، لا د دُعا نه فارغه شوے نه ووم چې يو ځلمے جمات ته را داخل شو، هغه تپوس اوکړو: حَسَن بِن سُفيان څوك دے؟ ما ورته اووئيل: زه يم. ځلمي اووئيل: زمونږ د ښار حاکم طُولون ستاسو د پاره خوراك راليږلے دے.

ما ترې په حيرانتيا تپوس اوکړو: حاکم ته زمونږ په باره کښې څنګه خبر اوشو؟ هغه ځلمي اووئيل: زه نوکر يم، نن سحر حاکم زه را اوبللم او اوئې وئيل: د فلانئ محلے فلاني جمات ته لاړ شه، هلته د دِين طالِبِ علمان دي، هغوئي د درے ورځو او درے شپو نه اوږي دي، هغوئي له خوراك هم اُورَسَوَه او څه مال هم ورکړه! او آؤ! زما له طرفه ورته معذرت

اوکړه چې ما ته د هغوئي د دې حالت علم اونه شو، سبا له به زه پخپله د هغوئي په خدمت کښې حاضر شم مُعافـي به ترې اوغواړم.

هغه ځلمي اووئيل: د ښار د حاکم چې دا خبرے ما واوريدلے نو زه حيرانه شوم، تپوس مې ترې اوکړو: جناب! آخر د دې مهربانئ سبب څه دے؟ حاکم اووئيل: د شپې زه په بستره ملاست ووم، سترګې مې لا بندې نه وې چې خوب مې اوليدلو: يو په اس سور کس دے، د هغه په لاس کښې نيزه ده، هغه د نيزے سر زما په غيږه کښې کيښودو او اوئې وئيل: فورًا پاڅه، د حَسَن بِن سُفيان او د هغه د ملګرو مدد اوکړه! هغوئي د علمِ دين د لارې مُسافِر دي، د درے ورځو او درے شپو نه اوږي دي، ستا د ښار په فلاني جمات کښې اوسي. حاکم وائي: ما د هغه اس سور نه تپوس اوکړو: تاسو څوك ئې؟ اوئې وئيل: زه فرښته يمه او تا ته د دِين طالب علمانو د دې حالت خبردارئ له راغلي يمه، ناوخته کول مه کوه! زر د هغوئي د خدمت انتِظام اوکړه! د دومره وئيلو نه پس هغه اس سور زما د سترګو نه غائب شو.[1]

سُبۡحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! تاسو اوليدل! د علمِ دين د طالبانو د پاره د غيب نه څنګه انتِظامات کيږي. لِهٰذا د غُربت او مال و



[1]...عُيُون الحکايات، حصه اول، صفحه:181تا184خلاصةً۔

دولت د کمۍ نه مه ویریږئ! هِمَّت پیدا کړئ او په علمِ دین زده کولو کښې مصروفه شئ. اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! الله پاك به مو مددګار جوړ شي.

## (8) پينځم مه جوړيږه

حضرت عبدُ الرحمٰن بن ابـي بَکـرَه رضی الله عنه نه روايت دے، د الله پاك آخري نبـي، رسولِ هاشمي صلّی الله علیه واٰله وسلّم فرمائي: عالِم جوړ شه يا طالِبِ علم، علمِ دين اوريدونکے جوړ شه يا د علمِ دين سره محبت کوونکے جوړ شه، **پينځم مه جوړيږه، ګنې هلاك به شې.**[1]

## (9) په موزو باندې د مسح کولو مسئله پوښتنې د پاره سفر

حضرت اِبنِ حُبَيْش رضی الله عنه فرمائي: د قبيلهٔ مراد يو صحابـي حضرت صفوان بِن عَسَّال رضی الله عنه د خوږ آقا صلّی الله علیه واٰله وسلّم په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: يَـا رَسُولَ الـلّٰـه صلّی الله علیه واٰله وسلّم! زه ستاسو په خدمت کښې د علمِ دين زده کولو د پاره حاضر شوے يم. خوږ نبـي صلّی الله علیه واٰله وسلّم اوفرمائيل: مرحبا! طالِبِ علمِ دِين ته دې هرکلے وي...! فرښتې د طالِبِ علمِ دِين نه خوشحالیږي او په خپلو وزرو کښې ئې پټوي، يوه فرښته په خپلو وزرو سره په هغه سورے کوي، دويمه



[1]...جامع بيان العلم وفضله، جلد:1، صفحه:158، حديث:151۔

فرښته د وړومبئ فرښتې په وزرو د پاسه په خپلو وزرو سورے کوي، داسې کولو کولو اسمانه پورې فرښتې د يو بل په وزرو باندې خپلې وزرې خوروي.

د طالِبِ علمِ دِين فضيلت بيانولو نه پس سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: څه زده کولو له راغلے ئې؟ حضرت صفوان رَضِىَ اللّٰه عَنْهُ عرض اوکړو: يَا رَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زه د مکې مکرمې نه مسلسل سفر کولو سره ستاسو په خدمت کښې په **موزو باندې د مسح کولو په باره کښې د مسئلے تپوس کولو** له حاضر شوے يم.[1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! سُبْحٰنَ اللّٰه! **خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** اوګورئ! د علمِ دين سره ئې څنګه محبت دے! صرف د يوے مسئلے د پاره ئې د دومره لرې علاقے نه سفر اوکړو او حاضر شو. او زمونږ د خوږ نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوشحالئ انداز هم اوګورئ! خوږ آقا صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په څومره ښکلې د محبت نه ډك انداز کښې د طالِبِ علمِ دين استقبال اوفرمائيلو او هغه ته ئې د علمِ دين د طلب فضائل بيان کړه.



[1] ...جامع بيان العلم وفضله، جلد:1، صفحه:164، حديث:162۔

www.dawateislami.net

## (10) د علمِ دين په بركت قبر روښانه كيږي

حضرت كَعْبُ الْاَحْبَار رضی اللہ عنہ فرمائي: الله پاك خپل نبـي حضرت موسٰی علیہِ السّلام طرف ته وحي را اوليږله: (اے موسٰی!) د خير خبرې زده كړه او خلقو ته ئې اوښايه! بيشكه زه به د علمِ (دين) ښودونكو او زده كوونكو قبرونه روښانه كړم، هغوئي ته به په قبر كښې بالكل ويره نه وي.[1]

## د علمِ دِين په لاره كښې رُكاوټونه

اے عاشِقانِ رسول! غور اوكړئ! د عِلمِ دين څنګه څنګه فضائل دي خو افسوس! زمونږه غفلت...! نفس سُستي راولي، د محنت او مشقت نه لرې تښتي، شيطان وسوسه ور اچوي، كله ئې د عِزَّت او شُهرت په طلب كښې مشغوله كوي، كله ئې د مال و دولت په حرص كښې اخته كوي، په زړه كښې وسوسے راځي كه په علمِ دِين زده كولو كښې مشغول شم نو مال به څنګه ګټم، د كوم ځائ نه به خورم؟ دومره غټ كاروبار دے، وخت څنګه اوباسم؟ دُكان پريښودے نه شم، د نوكرئ نه وخت نه ميلاويږي، د دې نه علاوه قِسماقِسم وسوسے اچولو په وجه خبيث شيطان مونږه د علمِ دين د دولت نه محرومه كوي.



[1]...جامع بيان العلم وفضله، جلد:1، صفحه:240، حديث:324۔

## شیطان د طالِبِ علمِ دِین د ټولو نه غټ دُښمن دے

د مکتبةُ المَدینه کتاب "**ملفوظاتِ اعلٰی حضرت**" کښې دي: د مازدیګر لمَانځه نه پس ټول شیاطین په سمندر باندې جمع کیږي، د ابلیس تخت لګي، د شیاطینو کارګزاري پیش کیږي، څوك وائي: په هغه مې دومره شراب اوڅښل، څوك وائي: په هغه مې دومره بدکارئ اوکړې (شیطان) د ټولو واوریدل. یو شیطان پکښې اووئیل: ما نن فلانے طالِبِ علمِ (دین) د لوستلو نه منع کړو. (شیطان) د دې په اوریدلو د تخت نه را ټوپ کړه او هغه ته ورغاړه ورغلو او اوئې وئیل: اَنْتَ اَنْتَ (یعني) تا (زبردست) کار کړے دے. باقي شیاطینو چې دا اولیدل نو اوسوزیدل چې هغوئي غټ غټ کارونه کړي دي، هغوئي ته ئې څه اونه وئیل او دې (شیطان) ته (طالبِ علمِ دین ته صرف په یوه چهټۍ کولو باندې) دومره شاباش ورکړو! ابلیس اووئیل: تاسو نه پوهیږئ څه چې تاسو کړي دي ټول د دې (علمِ دین لوستلو نه د منع کوونکي) کار دے. که (دیني) علم وے نو هغوئي (خلقو) به ګناه نه کولے.[1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! معلومه شوه د شیطان د ټولو نه لوئ هدف مسلمانان د علمِ دین نه منع کول دي که مسلمان د علمِ دِین نه



[1] ...ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحه:356۔

www.dawateislami.net

منع شي نو د هغه به د ګناهونو نه بچ کيدل ډېر ګران وي، په دې وجه مونږ له پکار دي چې علمِ دِين حاصل کړو، په دې کښې هيڅ قِسمه سُستي اونکړو.

الله پاك دې مونږ ټولو ته د علمِ دِين سره مينه او محبت را نصيب کړې.
اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم

## دعوتِ اسلامي او د علمِ دِين خورول

اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! د عاشقانِ رسول ديني تحريك دعوتِ اسلامي د علمِ دِين نُور په ټوله دُنيا کښې خورولو کښې مصروف دے.

د دعوتِ اسلامي په نګرانئ کښې په ملك او بهر ملکونو کښې په زرګونو جامعات چليږي، چرته چې اسلامي ورونړو او اسلامي خويندو ته په جدا جدا کيمپسو [يعني عمارتونو] کښې درسِ نظامي (يعني عالم او عالمَه کورس) ښودلے کيږي. اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! په جامعةُ المَدينه کښې عِلمِ تفسير و اُصُولِ تفسير، عِلمِ حديث و اُصُولِ حديث، عِلمِ فقه و اُصُولِ فقه، عِلمِ کلام، مختلف عُلُومِ لغت مثلاً عِلمِ نحو، عِلمِ صرف، عِلمِ بيان، عِلمِ بديع، عِلمِ معانی وغيره تقريباً 15 عُلُوم و فُنون ښودلے کيږي، اوس خو د الله پاك په فضل و کرم او د هغه د خوږ حبيب صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم په مهربانئ سره د دعوتِ اسلامي خپل تعليمي بورډ **کنزُ المَدارس** هم جوړ شوے دے. په

جامعاتُ المَدينه كښې امتحانات د **كنزُ المَدارس** بورډ تحت اخستے كيږي او د ايم. اے اسلاميات **ډګري** هم وركړے كيږي.

په جامعةُ المَدينه كښې داخلے جاري دي، په جامعةُ المَدينه كښې داخله واخلئ! خپل ماشومان هلكان او جينكئ داخلې كړئ! د خپلو خپلوانو او دوستانو ذِهن جوړ كړئ! هغوئي هم په جامعةُ المَدينه كښې داخل كړئ! په علمِ دين زده كولو او د دِين په خدمت كښې مصروف شئ! الله پاك دې مونږ ټول باعمله عالِمِ دين جوړ كړي او د نورو عالِم جوړولو توفيق دې راكړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللهُ علیهِ واٰلِهٖ وسلَّم

## 12 ديني كارونو كښې يو ديني كار "مدني مذاكره"

اے عاشِقانِ رسول! علمِ دين زده كولويوه آسانه ذريعه "مدني مذاكره" هم ده. اَلْحَمْدُلِلّٰه! شيخِ طريقت، رهبَرِ شريعت، اَمِيرِ اَهلِسُنَّت، حضرت علامه مولانا ابوبلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د اتوار په شپه په مدني چينل باندې براهِ راست (Live) مدني مذاكره فرمائي، د ټولې دُنيا عاشقانِ رسول د ديني او دُنياوي مشكلاتو د حل د پاره د هغوئي په خدمت كښې سوالونه كوي او هغوئي د علم و حكمت نه ډك جوابونه وركوي. هفته واره **مدَني مذاكره** د ذيلي حلقے په 12 ديني كارونو كښې يو ديني كار هم دے. د دُنيا او آخرت بهترئ موندلو، د اوليائے كرامو

فيض حاصلولو، په زړه کښې عشقِ رسول زياتولو، د علمِ دِين د رنړا نه خپل ځان ښائسته کولو او نيك لمُونځ ګزاره جوړيدلو د پاره په مدَني مُذاکَره کښې شريك شئ، او ډيرې نيکئ اوګټئ! ستاسو د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے اورووم:

## ماشومان هم لمُونځ ګزاره جوړ شو

تحصيل تَله ګنګ (ضلع چکوال، صوبه پنجاب) د يو اسلامي ورور وينا ده: مخکښې زه د معاشرے وران کارے انسان ووم، سګريټ، چرس، شراب څه به چې مخې ته راتلل څښل به مې، يو ځل په ما باندې کرم اوشو او ما د رَمَضَانُ المُبارَك روژې نيول شروع کړې، هره ورځ د شپې په مدني چينل باندې مدني مُذاکره کتل را ته نصيب شو، د اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د حکمت نه ډکو خبرو زما په زړه داسې اثر اوکړو چې زما په ژوند کښې بدلون راغے، اَلْحَمْدُلِلّٰه! ما د ګناهونو نه رښتينې توبه اوکړه او مخ مې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُنَّت يعنې ګيرې نه ښائسته کړو، پينځه واړه لمُونځونه مې په جمات کښې د جَمعې سره ادا کول شروع کړه، زما په لمَانځه ليدلو زما 12 کاله ځوئ او 10 کاله لُور هم لمُونځونه ادا کول شروع کړه. بچے خو د جمعې لمَانځه ادا کولو د پاره راسره جمات ته ځي.[1]



[1]...فيضانِ مدنی مذاکره، صفحه:72۔

صَــلُّــوْا عَــلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو سعادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِي فَقَدْ اَحَبَّنِي وَمَنْ اَحَبَّنِي كَانَ مَعِيَ فِي الْجَنَّةِ "چا چې زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي."[1]

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا
جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا

## د مقبرے د حاضرئ سُنَّتونه او آداب

دوه فرامينِ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: (1) د قبرونو زيارت کوئ ځکه چې دا د دُنيا نه د بے رغبتئ سبب دے او د آخرت يادګيرنه ور کوي.[2]



[1] ...مشکوٰۃ، کتابُ:الْاِيمان، بابُ:الْاِعْتِصَام، جلد:1، صفحه:55، حديث:175۔

[2] ...ابن ماجه، کتاب الجنائز، باب ماجاء فی زيارة القبور، صفحه:252، حديث:1571۔

www.dawateislami.net

**(2)** څوك چې د خپلو والدينو يا د يو قبر له د هرې جُمُعے په ورځ ځي، د هغه به بخښنه اوشي او نيکو کار به اوليکلے شي.[1]

اے عاشِقانِ رسول! ❀ د مسلمانانو د قبرونو زيارت کول سُنَّت دي او د اوليائے کرامو، شهيدانو قبرونو ته حاضريدل سعادت دے او هغوئي ته اِيصالِ ثواب خوښ عمل او د ثواب کار دے ❀ مزار يا قبر له د تللو په وخت لاره کښې په فضول خبرو کښې مه مشغوله کيږی ❀ قبر ته سجدهٔ تعظيمي کول حرام دي او که د عبادت په نِيَّت وي نو کفر دے ❀ په مقبره کښې په هغه عامه لارې ځئ چرته به چې په تير وخت کښې کله هم د مسلمانانو قبرونه نه وو، کومه لاره چې نوي جوړه شوي وي په هغې مه ځئ. په **فتاوٰی شامي** کښې دي: (په مقبره کښې قبرونه ورانولو سره) کومه لاره نوي ويستے شوي وي په هغې تلل حرام دي ❀ که چرته د نوې لارې گمان هم وي بيا پرې هم تلل ناجائزه او گناه ده ❀ د ډيرو اوليائے کرامو په روضو ليدل شوي دي چې د روضے زيارت کوونکو د سهولت د پاره د مسلمانانو قبرونه وران کړے شوي دي او د پاسه پرې فرش جوړ کړے شوے دے، په داسې فرش خملاستل، تلل، اودريدل، د تلاوت او ذِکر و اذکار د پاره کښيناستل وغيره حرام دي، چرته چې داسې صورتِ حال وي



[1]...شُعَبُ الايمان، جلد:6، صفحه:201، حديث:7901۔

www.dawateislami.net

نو هلته د لرې نه فاتحه لولئ ❀ په قبر د پاسه اګربتـۍ مه لګوئ چې دا بې ادبي او بد فالي ده، كه حاضريدونكو ته خوشبو رَسَوَل غواړئ نو د قبر خوا ته خالي ځاۍ وي هلته ئې اولګوئ چې خوشبو رَسَوَل محبوب دي ❀ د قبرونو د زيارت د پاره دا څلور ورځې بهتر دي: ګل، زيارت، جمعه او خيالي.

د جُمعے په ورځ د سحر لمَانځه نه پس د قبرونو زيارت كول افضل دي.[1]

مختلف سنّتونه زده كولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه دوه كتابونه "**بهارِشريعت** **جلد3 حصّه 16** او د شيخِ طريقت، اَميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه 91 صفحو رساله **550 سُنَّتيں اور آداب** هديةً واخلئ او اولولئ ئې. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو كښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو | سیکھنے سنتیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو | ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو

الله پاك دې مونږ ته د عمل كولو توفيق راكړې.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



[1]...550سنتيں اور آداب، صفحه:87تا90ملتقطاً۔

www.dawateislami.net

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴾1﴿ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمُعے او زیارت مینځنۍ شپه باندے) دا دُرُود شریف پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

### ﴾2﴿ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.



1 ... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

www.dawateislami.net

### ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

### ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ
صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِى رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

### ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صلی اللہ علیہ والہ وسلم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رضی اللہ عنہ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رضی اللہ عنھم حيران شو چې دا څوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صلی اللہ علیہ والہ وسلم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې



1 ... القول البديع، الباب الثاني، ص ۲۷۷

2 ... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص ۱۴۹

www.dawateislami.net

دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴾6﴿ دُرُودِ شَفاعت

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ**

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴾1﴿ د يو زر ورځو نيکئ:

**جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ**

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴾2﴿ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[4] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

323

1 ...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

2 ...الترغيب والترہيب، کتاب الذکر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

3 ... مجمع الزوائد، کتاب الادعية، باب فی کيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

4 ... تاريخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد